# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



د زیار خپرونه- سعیدالرحمان شیرزاد

۰۱ فبروری ۲۰۲۱

## د شتمنو جمهوریت هیڅکله د بیوزلو جمهوریت کیدای نشي

د افغانستان اوسنی اسلامی جمهوریت د شتمنو، پانګوالو، تاجرانو او د بډایوو جمهوریت دی چې نړیوال امریکایي - ناټویي ستمګران یې ملاتړ کوي. د دې جمهوریت په مقابل کې اسلامي امارت جنګیږي. دا امارت هم د شتمنو او بډایو ملایانو یوه ټولګه ده چې د لا ثروت او شتمني او قدرت لپاره وینه تویوي.

په دې وروستیو کې رسنیو کې داسي سندونه خپاره شول چې له مخې یې د ریاست جمهوري د چارو اداري د اتلسو ډولو غوښنو قرارداد اعلان کړی چې د دې کار سره د خلکو تر مینځ دغوښې د جمهوریت په نامه مشهور شوی دی. اسلامي جمهوریت په داسي حال کې د اتلسو ډولو غوښنو قرارداد کوي چې په خپله وایی چې نژدې ۶۰ سلنه خلک د بیوزلی د کرښې لاندې ژوند کوي.

په نننې افغانستان کې د شتمنو او بیوزلو تر مینځ طبقاتي فاصله او واټن بیخي زیات شوی دی. همدا پرون یو بیوزله انسان په بدخشان ولایت کې د بیوزلی له وجې ځان وواژه. په نننۍ افغانستان کې یوې خوا ته اقلیت شتمن دي چې د زیارکښو او بیوزلو انسانانو په لوټلو، جاسوسی او غلامی افسانوي ژوند لري او بلې خوا ته اکثریت زیارکښان او خواري کښ دي چې د تش لاسی او تنګسیا او ناداری ژوند کوي. لومړنی اقلیت واکمن او دویم اکثریت محکوم دی.

اوسنی دولت چې ځان د ټول ملت استازی ګڼي، دروغ وایي. ځکه یوازې یو ملي او دموکرات دولت چې د زیارکښانو د مبارزې او هڅې پایله وي کولای شي ځان د ملت استازی وګڼي. د خانانو، قاچاقچیانو، رشوتخورانو، سوداګرانو، قوماندانانو، د غاصبانو، د تیل او ګاز د مافیا، د بیرحمه تکنوکراتانو او د ستمګرانو د پلویانو دولت یوازې او یوازې د شتمنو هغه دولت دی چې زیارکښان او بیوزله انسانان ځپی تر څو خپله طبقاتي واکمني وساتي.

د شتمنو په دې اوسني جمهوریت کې یوه اداره د اتلسو ډولو غوښنو فرمایش لري. حال دا چې بیوزله انسانانو ته یو وخت ډوډۍ هم په سمه نه رسیږي. بیوزله انسانان له سهاره تر ماښامه کار کوي خو بیا هم په میاشتو میاشتو د یوې ډول غوښې مخه لیدلی نشي. خو هغوې چې د ملت دروغجن شعار ورکوي د ملت دا ځوریدلي او کړیدلي حالت نه ګوري او په خپله په عیش او عشرت کې ژوند کوي.

د اوسني دولت د جمهوریت چیغې د ولسونو د حقونو د ملاتړ لپاره نه دي. دا چیغې او ناري یوازې او یوازې د شتمنو، سوداګرو، د اینجوګانو، د سیاسی احزابو او رسنیو د مالکانو، د قومي ټیکه دارانو او جنګ سالارانو د حقوقو د خوندیتوب چیغې دي. ځکه که د امارت شتمن او بډایه ملایان په قدرت کې شامل شي نو د جمهوریت د بډایه جبهې

غوښینه برخه کمیږي او له امارتیانو سره ویشل کیږي. اسلامي جمهوریت هم کال په کال خلک بیوزله کوي او اسلامي امارت هم. اسلامي جمهوریت هم د زیارکښانو ملاتړ نه کوي او اسلامي امارت يې هم نشي کولای. اسلامی جمهوریت د نړیوالو ستمګرو ملاتړ لري او اسلامی امارت هم د نړیوالو ستمګرو ملاتړ. دواړه په ټولیزه توګه د زیارکښانو دښمنان دي.

دا به کوم وجدان او ضمیر وي چې هر ورځ زرګونه ماشومان ووینې چې پر واټونو د یوې مړۍ ډوډۍ لپاره منډې وهي، خو دوی د مرز، فیل مرغ او د شپاړس ډوله غوښې فرمایش ورکوي. دا به کوم وجدان وي چې مامور يې په میاشتو معاش اخیستی نشي، معلم يې په بیوزله سر دی او دا لکونه افغانی د کور د کرایې په نامه، د دسترخوان خرج په نامه، د معاش او زرې موټر په نامه له خزانې لوټي. دا به کوم وجدان او ضمیر وي چې اوري چې یو انسان له وږې ځان وځړاوه او مړ شو خو دې به دلته په اتلس ډولو غوښو شوخند وهي. د شتمنو جمهوریت، هیڅکله د بیوزلو جمهوریت کیدای نشي.